# د ژبپوهنې په وده کښې د کابل مجلې ونډه

## The contribution of Kabul magazine in the development of linguistic

Shahad Rahimi [1]

Dr Sher Zaman Seemab [2]

ABSTRACT:

*Under the title of (The contribution of Kabul magazine in the development of linguistics), the value of Kabul magazine in the development of linguistics has been discussed. Kabul magazine has started broadcasting in 1310 for the first time in Kabul. The magazine was published entirely in Dari language, after some time it was published half in Pashto and half in Dari language. When the Kabul Literary Association and the Kandahar Literary Association merged in (1316 AH) and the Pashto community came into exist, Kabul magazines also started publishing in Pashto. After the middle of the year (1320 A.H.), Kabul magazine started publishing in Pashto language, which is still published in Pashto language. In the year (1357 A.H.), the Pashto community was transformed into the (Afghanistan Academy of Sciences) along with several other academic centers.*

*Kabul magazine is historically the first magazine in Pashto literature, which has saved the most interesting information about Pashto language. According to the mentioned magazine, the Pashto language is on par with other languages at the regional level, and even has richer information than many other languages. Kabul magazine is very rich in terms of topics. In this magazine, it covers Pashtuns in various fields such as: literary, historical, social, cultural and folk research, linguistic or linguistic research, national issues, philosophical issues, artistic issues. Scholars have done a lot of work on the grammar of the language through the Kabul magazine.*

[1]PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar

[2] Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

*Scholars have written research articles on every part of Pashto grammar and published them in Kabul magazine, so that the people of the society can benefit from them. If the Pashto language today has rich grammar material, it is the blessing of the Kabul magazine. It was this magazine that has protected the golden sayings and historical writings of writers about the Pashto language from time to time. The first glimpses of standard linguistics reached the community members from the pages of Kabul magazine. Research articles have been written and published in Kabul magazine at different times in all linguistic departments. Therefore, it can be said that Kabul magazine has a strong role in the development of linguistics*

**لنډيز**

(د ژبپوهنې په وده کښې د کابل مجلې ونډه) تر عنوان لاندې په دغه څېړنه کښې د ژبپوهنې په وده کښې د کابل مجلې په ارزښت باندې خبرې شوي دي، کابل مجلې په 1310 کال کښې په نشراتو پیل کړی دی، د لمړي ځل لپاره کابل مجله ټوله په دري ژبه خپریدله، له څه وخت وروسته نیمه په پښتو او نیمه په دري ژبه خپرېدله؛ کله چې کابل ادبي انجمن او کندهار ادبي انجمن په (1316هـ.ش) کښې یو ځای شول او پښتو ټولنه منځ ته راغله کابل مجلې هم په پښتو خپرونې پیل کړې، د (1320هـ.ش) کال له نیمايي څخه ورسته کابل مجلې په پښتو ژبه خپرونې پیل کړې، چې تر اوسه په پښتو ژبه خپرېږي، په (1357هـ.ش) کال کښې پښتو ټولنه د څو نورو علمي مرکزونو سره د (افغانستان علومو اکاډمۍ ) باندې بدله شوه.

کابل مجله په پښتو ادب کښې په تاریخي لحاظ لومړنۍ مجله ده، چې پښتو ژبې په اړه یې خورا په زړه پورې معلومات خوندي کړي دي. د همدغې مجلې په اساس پښتو ژبه په سیمه ییزه کچه له ژبو سره په انډول برابره شوه، او حتی له ډېرو ژبو څخه غني معلومات لري.

کابل مجله په موضوعي لحاظ ډېره غني ده،په دغه مجله کښې د پښتنو په مختلفو برخو  لکه: ادبي ، تاریخي ، اجتماعي ، کلتوري او فولکلوري څېړنې، ژبنۍ یا د ژبپوهنې څېړنې، ملي مسألې، فلسفي موضوعات، هنري مسأیل په خپله لمن کښې رانغاړي.

د کابل مجلې په واسطه د ژبې ګرامر ته پوهانو ډېر کار کړی دی. د پښتو ژبې د ګرامر په هره برخه کښې پوهانو تحقیقي مقالې لیکلي دي او هغه یې په کابل مجله کښې خپرې کړي دي، تر څو د ټولنې وګړي ورڅخه ګټه پورته کړي. پښتو ژبه که نن د ګرامر غني مواد لري نو د کابل مجلې له برکته دي. همدغه مجله وه چې د پښتو ژبې په اړه یې وخت ناوخت په خپله غېږه کښې د لیکوالو زرین اقوال او تاریخي لیکنې خوندي کړي دي. د معیاري ژبپوهنې لومړني څرکونه د کابل مجلې له پاڼو څخه د ټولنې غړو ته ورسیدل. په کابل مجله کښې د ژبپوهنې په ټولو څانګو کښې په مختلفو وختونو کښې تحقیقي مقالې د لیکوالو لخوا لیکل شوي او هغه نشر شوي دي. نو په همدغه اساس ویلای شو چې کابل مجله د ژبپوهنې په وده کښې یو غښتلی رول لري.

## د ژبپوهنې په وده کښې د کابل مجلې ونډه

کله چې د اميرامان الله خان پاچاهي ړنګه شوه او د حبيب الله خان کلکاني پاچاهي شروع شوه د «پښتو مرکه» له منځه لاړه، وروسته بيا د محمد نادرخان په پاچاهۍ کښې د کابل ادبي انجمن جوړ شو. د کابل ادبي انجمن د ايجاد فرمان د محمد نادرخان د واکمنۍ پر مهال (1309ش) کال صادر او د (1310ش) کال په پسرلي کښې د «کابل مجلې» په خپريدو سره يې کار پيل کړ.[1]

د کابل ادبي انجمن لومړنيو غړو په اړه د (مختصر تاريخ مطابع و جرائد افغانستان) کښې داسې عبارت راغلی دی: ( اين وقت انجمن ادبی کابل تآسيس گرديد و تاريخ تأسيس آن يکشنبه (10) برج جوزا سال 1310 ش. مطابق (13) محرم الحرام سنه 1350ق، و موفق (1) جون 1931 ع، و تشکيل اولين آن درسال اول ازينقرار است:

**مدير:** محمد انور خان بسمل(ولد ناظر محمد صفر)

**اعضاء**

1- مير غلام محمد حسيني (غبار)

2– غلام جيلاني خان اعظمي (نواده اعظم خان نساقچي باشي)

3- غلام سرور گويا (ولد جمه خان بن سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله)

4- محمد کريم خان نزيهي(قاضي زاده) از مردم فارياب

5- محمد بشير خان منشي زاده.

6- امين الله خان لطيفي.

7- عبدالباقي خان لطيفي.

8- غلام جان خان کتابدار.

اولين محصول تراوش افکار رئيس و اعضاء انجمن ادبی کابل، مجله کابل و سالنامه کابل است)[2].

د (1316هـ.ش) کال کښې د کابل ادبي انجمن او کندهار ادبي انجمن له يو ځای کېدو څخه پښتو ټولنه منځ ته راغله، چي بيا په (1357هـ.ش) کال کښې پښتو ټولنه د يو څو نورو علمي مرکزونو په ګډون پر «د افغانستان علومو اکاډمی» بدله شوه، خواصلي بنسټ يې همدغه پښتو ټولنه ده.[3]

په آريانا دايرت المعارف کښې ئې د کابل ادبي انجمن اهداف داسې ذکر کړي دي: (هدف و برنامه انجمن ادبی کابل اصلاح و توحيد سبک ادبيات کشور، انفاذ اسلوب معياری نگارش، در روشنی قرار دادن تاريخ کشور، احيای مفاخر ملی، تصحيح و چاپ آثار ادبی، ترجمه از زبانهای خارجی و چاپ آنها جهت غنای فرهنگی، ادبی بوده، چناچه در مرام انجمن و پروگرام آن ميخوانيم «بهران ادبی محيط علم و ادب وطن ما را استيلا کرده است،

شدت احتیاج متقاضی گردیده، جنبشی در این راه به صحنه عمل ظاهر و قدمی برای اصلاحات ادبیه بر داشته شود» در ادامه همین حرفها، برنامه فعالیتهای انجمن طی چهارده ماده توضیح گردیده است).[4]

کابل مجله د یوې داسي تاریخي مجلي نوم دی چي ارزښت یي تر مجلي خورا په کراتو مراتو اوچت دی، په دې معنا دغې مجلې تر اوسه پورې ډېر داسي لیکوال او ژورنالیستان روزلي چي اوس په خپله دمعتبرو اوعلمي مجلو مسؤلین دی، دغې مجلې یو مهال د یو مکتب بڼه خپله کړې وه او ډېرو خلکو به ترې لیک لوست زده کاوه او دا به یې ویاړګانه چې مقاله یې په کابل مجله کښې خپریدله[5].

کابل مجله د 1310 کال د غبرګولي په 15 د 1350 هـ،ق د محرم 18 د 1931 د جون 5 په کابل کښې د کابل د ادبي انجمن له خوا د دې انجمن د نشراتي اورګان په توګه د مجلې په ډول خپره شوه، د لومړۍ ګڼي کچه یې 16×22 سانتي متره وه او 48 مخونه یې درلودل، د دې کال ګڼي د کال تر پایه پورې په همدې کچه خپرې شوې او د ځینو ګڼو مخونه یې تر (66 هم واوښتل) په دې کال کښې یې په عادي ګڼو سر بیره درې فوق العاده ګڼي هم خپرې کړې چي یوه یې د خپلواکۍ د 13 کال په ویاړ، بله یې د نجات د دریمي کلیزې په مناسبت او بله یې دملي شورۍ د پرانستلو په ویاړ وه. په دوهم نشراتي کال کښې د کابل مجلې کچه 18×24 سانتي متره شوه او د ځیني ګڼو مخونه یې تر 120 واوښتل او تر 9 کال پورې په همدې کچه او د سلو مخو په شاوخوا کښې خپره شوه، په نهم نشراتي کال کښې د کابل مجلې کچه 21×29$\frac{1}{2}$ سانتي متره شوه، متن یې دوه ستوني ترتیبېده او مخونه یې تر سلو اوښتل. په 1319 کال کښې چي دوهمه نړیواله جګړه پیل شوې وه، اقتصادي اغیزه یې په افغانستان هم وشوه او په دې سلسله کښې د کاغذ د کمښت موضوع رامنځ ته شوه د هېواد ډېرې خپروني ورې شوې او ډېرې له خپریدو پاتي شوې، دې ناوړې وضعې په کابل مجلې هم اغیزه وکړه لومړۍ یې مخونه د 1319 کال په سرطان کښې له سلونه پنځوسو ته ټیټ شول او بیا یې د دې کال په میزان کښې کچه ورړه او 19×27 سانتي مترو ته را ټیټه شوه او مخونه یې هم له سلو نه څلویښتو ته را ټیټ شول، همدا د جنګ په دوران کښې کابل مجله په جیبي کچه هم خپره شوه.[6]

د کابل مجلې په دوهم نشراتي کال کښې د پښتو لیکنې پیل شوې، په دریم نشراتي کال کښې د« ادبیات پښتو» تر سرلیک لاندې د پښتو ادب درې ترجمې او پر پښتو ادب تبصرې پیل شوې، په څلورم نشراتي کال (1313هـ ش) کښې د پښتو نظمونه خپرول په کښې پیل شول، په (1316) کال کښې یې پښتو مقالې زیاتې شوې، په (1318) کال کښې دکابل مجلې نیمایي برخه پښتو شوه، په (1319) کال کښې یې پښتو تر درې زیاته شوه او د (1320) کال په نیمايي کښې له 125 ګڼې وروسته ټوله په پښتو وا وښته او تر نن پورې په پښتو ملي ژبه خپریږي.

کابل مجله د موضوعاتو له مخې ډېره غني مجله ده، په موضوعي لحاظ د لومړنیو مجلو څخه ده چي په هېواد کښې د ټولني د مختلفو برخو لکه، ادبي ، تاریخي ، اجتماعي ، کلتوري او فولکلوري څېړني، ژبنی یا د ژبپوهنې څېړنې، ملي مسألې، فلسفي موضوعات، هنري مسأیل په خپله لمن کښې رانغاړي.

کابل مجلې په خپل تاریخي بهیر کښې د پښتو ژبې او افغان ملت د تاریخ بقا او پرمختګ لپاره ډېرې مقالې په خپله غیږه کښې خوندي کړي دي، د پښتو ژبې له ګرامر نه نیولې تر ادب پوهنی ،فولکلور، کلتور، تاریخ او مقایسوي ژبپوهنی پورې ټولې څېړنې د پوهانو لخوا د کابل مجلې په واسطه د ټولنې غړو ته وړاندې شوي دي. د کابل مجله لومړۍ ټوله په درې ژبه خپریدله بیا دوهمه دوره نیمه په پښتو او نیمه په درې ژبه شوه، کله چې په (1316 هـ.ش) کال کښې کابل ادبي انجمن او کندهار ادبي انجمن یو ځای شول او پښتوټولنه منځ ته راغله نو کابل مجله هم ټوله په پښتو ژبه خپره شوه. کابل مجلې د کابل ادبي انجمن اهداف تعقیبول او د همدغو اهدافو د نشرولو

لپاره کابل مجله منځته راغله. دکابل مجلې په (1360هـ.ش) کال ځلورمه ګڼه کښې د کابل ادبي انجمن اهداف داسي راغلي دي:( د سبک اصلاح کول، د انشاء املاء او اسلوب سره یو شانته کول، د علمي او ادبي اصطلاحاتو توضیع او رواجول، له داخلي او خارجي ليکوالو او ادبيانو سره فرهنګي اړیکي ټينګول، مجله میاشتنی ده او علمي، ادبي، اجتماعي او تاريخي مضامين خپروي).[7]

همدارنګه دکابل مجلې اهداف هم د کابل مجلې په لومړي ګڼه کښې د (مرام مجله) تر عنوان لاندې داسي روښانه شوي دي: ( مجلهٔ «کابل» که بار اول است با این مقصد در محیط عرفانی وطن در سایه توجهات پادشاه معارف پرور خویش اعلیحضرت محمد نادرشاه افغانستان حیات یافته و از طرف این انجمن بمعرض نمایش ومطالعه میرسد امید داریم بتواند بهترین اروزها و نیات اصلاح خواهی ووطن دوستی را ترجمان شده ونمونه های بهترین اعمال و افکار خدمتګذار این انجمن را بحضور قارئین محترم ترجمانی نماید.

مجلهٔ «کابل» بمقصد قدر شناسی از اهل قلم ، فضلا، معاریف و برجسته ګان ملت خود و به افتخار آثار نفیس شان صفحات خود را زینت دا ده و تذکاری از انها خواهد نمود.

مجلهٔ «کابل» بغرض وحدت سبک نویسندګی واسلوب تازه ادبیات امروزه نمونه های کوچکی باولاد نو قلم ومحصلین مکاتب وطن خود هدیه خواهد نمود.

مجلهٔ «کابل» آمال ونظریات انجمن ادبی را در اطراف زبان و لغات و سبک اشعار و تحریرات فعلی بمقصد اصلاح وترقی به پیشګاه نظر فضلا و ادبای محترم وطن عرض و مساعدت فکری و قلمی آنها را باین موضوع جلب و استدعا خواهد نمود).

په عمومي ډول ويلای شو، چې د کابل مجلې اهداف هماغه د کابل ادبي انجمن اهداف دي، ځکه هره ورځپانه او مجله د یو ځانګړي ارګان لخوا د ځانګړو اهدافو لپاره رامنځته کيږي، کابل مجله هم د کابل ادبي انجمن د اهدافو پر مخ بيولو لپاره را منځته شوه. د(1310هـ.ش) کال نه تر (1350هـ.ش) کال پورې د کابل مجلې عمومي اهداف د سبک اصلاح کول، د انشاء املاء او اسلوب سره یو شانته کول، تولني ته د علمي اوادبي اصطلاحاتو وړاندې کول ، د ليکوالو او ادیبانو روزل، د خپلو مشرانو ليکوالانو پيژندنه او د هغوی قيمتي اثار په خپلو پاڼو کښې نشرول د دغې مجلې د اهدافو څخه ول.

ژبپوهنه هغه علم ته وائي چې د هغه په وسيله سره ژبه ، د ژبې څرنګوالی، جوړښت بدلون، او نور قسم ژبني مسائل د څيړني لاندې نيولی شي.[8]

ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبې په اړه په مختلفو برخو باندې تحقيق کوي، د ژبپوهنې علم پواسطه يوه ژبه له خطا ژغورل کيږي او د پرختګ لوړو پوړيو ته رسيږي، د ژبپوهنې همدغه مفهوم ته په کتو په کابل مجله کښې د ژبپوهنې بر سيره مختلف موضوعات راغلي دي، محمد صديق روهي د لومړيو څو کلونو په اړه ليکي: د کابل مجلې د لومړيو څو کلونو له خپرونو څخه څرګنديږي، چې ليکونکي ډله د افغانستان د تاريخ او ادبياتو د روښانولو ، د نړيوالو علمي اکتشافاتو او اختراعاتو څخه د خلکو د خبرولو، د نويو ليکوالو او شاعرانو د روزلو او د هيوادپالنې د احساساتو د وينولو په برخه کښې په ډېره مينه کار کوي، د دې وخت ليکوال په شعوري توګه زيار باسي نړيوالو ته افغانستان داسې معرفي کړي، چې له ډېرو لرغونو زمانو څخه ځانته جلا تاريخ او ملي هويت لري، ځانته ادبي تاريخ، ولسي مشاهير او ملي افتخارات لري او په غير مستقيم ډول مدعيان په دې وپوهوي، چې د افغاني ټولنې فرهنګي مواريث او تاريخي مشخصات دې په رسميت وپيژني، داسې ښکاري، چې ځينو باندنيو

خپرونو د مجلې د دغې تګلارې په مقابل کې عکس العملونه ښودلي دي، تر دې وخته پورې ځينو بهرنيو ليکوالو او مؤرخانو ادعا کوله چې ګويا د افغانستان تاريخ له اتلسمې ميلادي پيړۍ څخه پيل کيږي، (انجمن ادبي) په مستتره او غير مستقيمه توګه پر دغسې مفکورو باندې د بطلان کرښه راوکښله.[9]

په کابل مجله کښې ژبنۍ څېړنې له هماغه لومړي وخت څخه پيل شوي او وخت پر وخت له زړې (فقه اللغت) څخه تر نوې (فلالوژۍ) پورې مقالې په کښې خپرې شوې، د پښتو ژبې ريښې، د پښتو خپلواني ژبې ، د پښتو ګړدودونه، د پښتو پښويه (ګرامر) د پښتو ويې پانګه او نور د بېلو، بېلو مقالو په ترڅه کښې په کښې څېړل شوي او هم په دې برخو کښې د بهرنيو پښتو پوهانو مقالې پښتو شوې او خپرې شوې دي.[10]

په کابل مجله کښې لومړۍ د ګرامر په اړه مقالې په درې ژبه وې، ځکه په لومړيو کلونو کښې کابل مجله په درې ژبه خپريدله، وروسته له 1320 هـ، کال څخه چې کابل مجله په پښتو ژبه شوه د پښتو ژبپوهنې په اړه ټولې مقالې په پښتو ژبه خپرې شوې، له لومړي سره د ګرامر ارزښت او په ټولنه کښې يې د خلکو تر منځ ضرورت د کابل مجلې په اساس روښانه شو، او ليکوالانو ورته کار وکړ.

د ژبې لپاره قواعد او همدارنګه د الفبا، کلمو او جملو په اړه مفصلې تحقيقي مقالې د ليکوالو لخوا وليکل شوې، استاد پوهاند صديق الله رښتين له ټولو لومړۍ څېړونکی و، چې د پښتو ژبې ګرامر د قواعدو او ژبپوهنې په اړه يې په کابل مجله کښې په زړه پورې کار کړی دی.

کابل مجله د پوهانو او ليکوالو يوځينې ادرس و، چې خپلې ليکل شوې تحقيقي مقالې به يې د ټولنې د ژبنۍ اصلاح لپاره پکښې خپرولې او د ټولنې تر څنډو به يې رسولې. يواځې د ژبپوهنې په اړه نه بلکې د ټولنې په نورو برخو کښې به هم تحقيقي مقالې ليکل کېدې او تر نشر به رسېدې.

له کابل مجلې مخکښې د پښتو ژبې په هکله په داخلي پوهانو کښې د ګوتو په شمار څېړونکي ول چې د پښتنو په تاريخ او ژبې باندې ئې پوهه درلوده، خو خپل معلومات يې په منظم ډول د ټولنې نورو اشخاصو ته نشو انتقالولای، کابل مجله د همدغو معلوماتو د انتقال او د پښتنو د کليوالي ژوند د مختلفو برخو معلوماتو راجمع کولو لپاره د پښتو ټولنې خپرنيز ارګان شو، کابل مجلې د پښتنو لپاره په خپل سل کلن مزل کښې د ژبې، کلتور، تاريخ، سياست، ادب، کره کتنې، فلسفې او داسې نورو برخو کښې خپلې زرينې پاڼې له تحقيقي او تخليقي مقالو څخه ډکې کړې دي.

په عمومي توګه ويلای شو چې کابل مجلې په افغانستان کښې د اوسنۍ ژبپوهنې لپاره لاره هواره کړه، اوسنيو پوهانو د پخوانيو څېړنکو د څېړنو په اساس نوي ژبپوهنې ته کار وکړ او پښتو ژبه يې په خپل وخت کښې له نورو ژبو سره سيال کړه. کابل مجله په افغانستان کښې د يوې منظمې تحقيقي او تخليقي مجلې نوم دی چې پښتو ادب ته يې ډېر ليکوالان روزلي دي او د هغو په ذريعه پښتو ژبه نن د نړۍ له يو شمير ژبو څخه په لومړي قدم کښې ځای لري.

## ماخذونه

[1] ـ ښېرنپوه ثريا پوپل، د افغانستان د علومو اکاډمي تاريخچه، (د افغانستان د علومو اکاډمی داطلاعاتو او عامه اړيکو رياست،کال:2018م)، مخ: 4.

[2] ـ عزيزالدين وکيلي پوپلزئ، مختصر تاريخ مطابع وجرائد افغانستان،( مطبعه بهير،کابل، کال؛1397هـ.ش)، مخ419.

[3] ـ محمدزرين انځور، د افغانستان پر ادبياتو دمشروطيت غورځنګ اغيزي(دوکتورا ډيزرټيشن)، (د افغانتسان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، کال:2023م)، مخ:606.

[4] ـ آريانا دايرة المعارف( دوره دوم)، اکادمي علوم افغانستان ـ رياست دايرة المعارف، کال:1386ش، مخ:822.

[5] ـ سيد نظيم سيدي، د شلمې پېړۍ په لمړۍ نيمايي کې د پښتو ادب د پرمختيايي بهير ښېړنه،( دافغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، کابل، کال:2020ز)، مخ:315.

[6] ـ حبيب الله رفيع، پښتو خپروني، (د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت، کابل، کال:2015)، مخ:69ـ70.

[7] ـ محمد صديق روهي، د کابل مجلي د پنځوس کلني نشراتي دورې خصوصيات(مقاله)، (کابل مجله،کال:1360، ګنه څلورمه) مخ:3.

[8] ـ بشرا، اکرام، ژبپوهنه،(فاسټ ټريک کميونيکېشن پېښور، کال:2018ء)، مخ؛64.

[9] ـ محمد صديق روهي، ادبي ښېړني، (دانش خپرندويه ټولنه: پېښور، کال: 2007ز، مخ:351.

[10] ـ حبيب الله رفيع، پښتو خپروني، (د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت، کابل، کال:2015)، مخ: 75.